# د ولسمشر اشرف غني د کړنو د آزموینې پارچه

د افغانستان د عدالت موسسې څېړنه
کابل - افغانستان

مارچ ۲۰۱۷

# د ولسمشر اشرف غني د کړنو د آزمویني پارچه

د افغانستان د عدالت موسسږ څېړنه

[Type sidebar title]

[Type the sidebar content. A sidebar is a standalone supplement to the main document. It is often aligned on the left or right of the page, or located at the top or bottom. Use the Drawing Tools tab to change the formatting of the sidebar text.]

# لړلیک


پېژندنه ........................................3
سوله ........................................5
بنځه حکومتوالي ........................................6
امنیت ........................................7
بهرنۍ سیاست ........................................8
اقتصاد ........................................9
فساد ........................................10
تعلیم ........................................11
عامه روغتیا ........................................12
پانګه او ورانده ........................................13
د افغانستان د عدالت موسسې په هکله ........................................15

# پېژندنه

کابل (پژواک، ۱۱ غبرګولی ۹٦): د افغانستان د عدالت موسسي یوه څېړنه ښیي چې د امنیت او سولې د ټینګښت په برخو کې د ولسمشر غني د ناکامې نومرې خو د زده کړو په برخه کې یې بریالیتوب نومرې تر ۵۰ سلنې لوړې دي.

د افغانستان د عدالت موسسه ( AJO ) وخت په وخت د افغانانو د درک په اړه چې د بېلابېلو سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو په هکله یې لري څېړنې ترسره کوي. وروسته له هغه چې په ډراماتیکه توګه له بدلونونو ډکو ټاکنو په نتیجه کې ورونکی اعلان شو، ولسمشر غني اوس د خپلې پنځه کلنې ولسمشرۍ دورې په نیمايي ( ۳۰ میاشتې) کې قرار لري.

د افغانستان د عدالت مؤسسې غړو وغوښتل تر څو د ولسمشر غني د کړنو په اړه د افغانانو د درک ارزونه وکړي او هیله لري چې د دې ارزونې لاسته را وړنې به ولسمشر غني دې ته وهڅوي تر څو د خپلو کړنو په اړه فکر وکړي او یا هم په خپلو کړنو کې تغیر راوړي.

د دې ارزونې/سروې موخه ساده ده. مونږ غواړو د افغانانو احساسات د ولسمشر په هکله د هغه د کړنو د ارزونې له لارې تعین/درجه بندي کړو. دا درجه بندي زمونږ د ښوونځیو د درجه بندي په څېر ده - کامیاب، ناکام، مشروط – مشروط هغه حالت دی چې زده کوونکي نه د کامیابي وړ وي او نه د ناکامي بلکه د یوې بلې موقع د ورکولو په موخه د یوې بلې آزموینې آسانتیا ورکول کېږي. په غرب کې، مشروط ښايي د (D) درجې سره برابر وي او دا هغه حالت دی چې د زده کوونکي کړنې په یوه مضمون کې لږ وي او د راتلونکې ودې لپاره ډېر امکانات موجود نه وي. مونږ د مشروط اصطلاح دلته د دې اصطلاح د معنی له امله کاروو چې یوه زده کوونکي ته د دوهم چانس ورکول دي.

دا ارزونه/سروې هم لکه نورې ارزونې چې د خلکو درک/ذهنیت ښکاره کوي، د خلکو شخصي نظر ښیي. سره له دې هغه درجه بندي چې ولسمشر غني ته په بېلابېلو سکتورونو کې ورکړل شوې، عمومي منل شوې شاخصونه دي چې د عامو وګړو احساسات د ولسمشر غني په اړه په ګوته کوي.

د دې ارزونې لپاره ټاکل شوې سکتورونه سوله، ښه حکومتوالي، امنیت، بهرنۍ پالیسي، اقتصاد، تعلیم، عامه روغتیا او فساد دی.

یوه ساده پوښتنه د ارزونې ګډون کوونکو مخې ته اېښودل شوې او پوښتل شوي چې خپل نظر له دریو خوښو څخه د یوه د انتخاب/ټاکلو له لارې ووایي. دا ارزونه په پښتو او دري ژبو ترسره شوې. لاندې پوښتنه یوه توضیحي پوښتنه ده:

1 .ستاسي له نظره به تاسي د ولسمشر غني کړنې د معارف په څانګه کې څنګه و ارزوئ؟ هیله ده یو انتخاب وکړئ.

- کامیاب
- ناکام
- مشروط


د افغانستان د عدالت موسسې دا ارزونه د ۲۰۱۷ کال د مارچ او اپرېل په میاشتو کې ترسره کړې او د معلوماتو د راغونډولو لپاره یې درې ( ۳) لارې چارې په پام کې نیولې چې مخامخ او د ټیلیفوني اړیکو له لارې مصاحبې دي، پر لیکه (انلاین) ارزونه ده او پوښتنلیکونه دي. په ټوله کې ۲۱۹ تنو ګډون کوونکو په دې ارزونه کې برخه اخیستې چې ۳۰ سلنه یې ښځینه دي. د ۲۱۹ ګډون کوونکو څخه، ۸۵ سلنه یې د لوړو زده کړو لرونکي او ۱۵ سلنه د ښوونځیو فارغین دي.

د ارزونې ګډون کوونکي د جنسیت/جندر، تعلیم، قوم او ولایت په اساس بېل کړل شوي دي.
ګډون کوونکي د افغانستان له ۲۳ ولایتونو څخه دي او دا ارزونه/سروې د دې لپاره نه ده ډیزاین شوې چې د ګډون کوونکو دلایل او عقیدې وڅېړي بلکه یوازې د ګډون کوونکو نظر د ولسمشر غني د کړنو په اړه په بېلابېلو سکتورونو/برخو کې ارزول دي.



# سوله

مونږ د دې ارزونې لاسته را وړنې له سولې څخه پیل کړي ځکه چې سوله د افغانانو لپاره ډېر اهمیت لري او ولسمشر غني په سوله ډېر ټینګار کوي، لکه څنګه چې د بدلون او داوم ټیم په منشور کې هم راغلي او خپل ډیری کوښښونه یې د سولې لپاره وروسته تر دې چې ولسمشر شو، وقف کړي دي. منشور وایي: سوله د سیاسي ټینګښت/ثبات لپاره اساسي رُکن ده. یو هیواد چې له کړکېچ سره تړلی وي، نشي کولای خپلو وګړو ته امنیت او ثبات برابر کړي او نشي کولای سیاسي ټینګښت هم لاسته راوړي. له همدې امله، مونږ غوښتل پوه شو او د دې ارزونې په نشرولو مو غوښتل ولسمشر غني هم پوه شي چې افغانان د ده کړنې د سولې لپاره څنګه ارزوي. لکه څنګه چې لاندینی چارټ ښیي، اکثریت ګډون کوونکو د ولسمشر کړنې د سولې په برخه کې ناکامې او د ځینو له خوا ولسمشر مشروط ښودل شوی دی. په داسې حال کې چې یوازې ۱۲ سلنه ګډون کوونکو په دې برخه کې ولسمشر کامیاب ښودلی دی.




# ښه حکومتوالي

منشور ښه حکومتوالي په سوله پورې تړلې بولي او وايي: د سولې په درلودلو سره مونږ کولای شو ښه حکومتوالي ولرو. د دې منطق طبعي حالت دا دی چې که سوله نه وي، ښې حکومتوالۍ ته نشو رسېدلای. مونږ پوهیږو چې په هېواد کې سوله نشته او له همدې امله ښه حکومتوالي هم نشته.

سربېره پر دې، منشور وايي: ښه حکومتوالي په ټولنه کې د وګړو یو له ډېرو اړینو حقونو څخه شمېرل کیږي. د ښې حکومتوالۍ د لاسته راوړلو لپاره، "د قانون پلي کېدل، مستقله قضآ او د ملي شورا د قانون جوړولو حق دی... "

سره له دې چې، ولسمشر له پیل څخه د ښې حکومتوالۍ د راوستلو لپاره قوي ژمنې درلودې، او شواهد هم ښکاره کوي چې تر څه نا څه حده پرمختګ هم شوی خو د خلکو احساسات له دې پرمختګونو سره همغږي ندي.

لکه څنګه چې په لاندې چارټ کې هم ښودل شوي، د کامیابي او ناکامي درجه یوشان ده، خو که مشروطې درجې ته ځیر شو، درجه بندي د ناکامۍ لوري ته ده او ولسمشر غني د کړنلارې په هکله ۳۶ سلنه فکر کوي چې ولسمشر باید خپله کړنلاره ښه کړي تر څو کامیاب شي. جالبه دا ده چې ولسمشر غني په دې برخه کې په جنوبي او ختیځو سیمو کې ناکام دی.



# امنیت


امنیتي وضعیت د ناټو او ایساف د ځواکونو تر وتلو وروسته په ۲۰۱۴ کال کې ګډوډ شو. طالبانو او داعش خپلو حملو ته زور ورکړ او ښکاري چې ډېره پراختیا به ومومي. ولسمشر غني په خپل منشور کې ویلي چې: امنیت د سیاسي ټینګښت لپاره یو له مهمو رُکنونو څخه ګڼل کیږي. خو سوله د امنیت سریزه/پیل دی، او له امنیت پرته یو هیواد داسې دی لکه حکومت چې د خپلو اقداماتو له لارې د امنیت په ټینګولو کې پاتې راغلی وي.
منشور همدا راز وايي: زموږ امنیتي پلان چې موږ به یې عملي کړو تر څو په هیواد کې امنیت برقرار شي او همدا راز، منشور په بله برخه کې په تفصیل سره هغه چارچوبونه چې که عملي شول، په نتیجه کې به یې په هیواد کې امنیت برقرار شي، شرحه کوي. بیا هم، د داسې چارچوبونو عملي کول په سوله، ښه حکومتوالي او د قانون پلي کول چې د ښې حکومتوالی یوه برخه ده، پورې تړلې دی.

سره له دې چې، منشور په ښکاره توګه د امنیت تعریف نه کوي، خو د امنیت د لاروچارو او جوړښت په اړه چې د امنیت د راوستلو لپاره کارول کیږي، معلومات وړاندې کوي. ولسمشر غنی لومړی شخص دی چې د امنیت مسؤلیت په غاړه لري او د مسلح قواوو اعلی سرقوماندان دی. منشور د ولسمشر غني مسؤلیتونه د یوه خاص دفتر له لارې چې د مسلحو قواوو اعلی سرقومانداني ده، طرح کوي. د دې دفتر وظیفه دا ده چې هره ورځ، سربېره پر دې چې د ولسمشر اوامر پر ځای کړي، امنیتي وضعیت بررسي، او استخباراتي راپورونه ولسمشر ته وړاندې کړي. ولسمشر غني د ټاکنو په ترڅ کې، فکر کاوه چې د لویو لارو امینت به یې یو له لومړیتوبونو څخه وي: "که لویې لارې امنیت ونلري، دا زموږ د امنیتي قواوو ناکامی ده او زموږ د دولت سیستم ستونزه لري."

روښانه ده چې د افغانستان لویې لارې او سړکونه خوندي ندي. د افغانستان عدالت موسسې په ۲۰۱۵ کال کې یوه ارزونه/سروې وکړه او د ۲۰۱۷ کال د جنوري په میاشت کې د همغې سروې بیا کتنه وکړه او له وګړو یې و پوښتل چې بشري خوندیتوب یعنې څه؟ ګڼون کوونکو ځینې برخې په ګوته کړې چې یوه برخه یې د لویو لارو/سړکونو نه خوندیتوب وو چې د تګ راتګ د ازادی لپاره یو خنډ ګڼل کېږي. افغانانو ته بشري خوندیتوب په افغانستان کې د ننه په آزاده توګه تګ راتګ دی.

امنیت په عمومي توګه د هیواد د ګټو او له هر راز بهرني او کورني تیري څخه ساتنه ده. د بشري خوندیتوب د ارزونې/سروې د نظریاتو د تایید په توګه، لاندینی چارټ، په واضح توګه ښیي چې د افغانانو غوڅ اکثریت، ولسمشر غني د افغانستان په خوندي ساتلو کې او په خاصه توګه د لویو لارو په ساتلو کې پاتې راغلی او ناکام یې بولي.


امنیت




# بهرنی سیاست

د یوه هیواد د امنیت یو اړخ دهغه بهرنی سیاست دی چې د بهرنیو اړیکو له لارې د یوه هیواد د ګټو ساتنه کوي. د ولسمشر غني بهرنی سیاست د ملي حاکمیت د اصل پر بنا ولاړ دی. منشور د ولسمشر غني بهرنی سیاست او ډیپلوماسي چې د "منلو د اصولو او بنسټیزو اقداماتو پر بنسټ یې ترسره کوي او د مثبتو او عملي پلانونو له لارې د یو فعال او رغنده بهرني سیاست د اداره کولو هڅه کوي"، په ګوته کوي.


په داسې حال کې چې مونږ د ولسمشر غني د بهرني سیاست د تګلارې په توګه کوم سند تر لاسه نه کړ، مونږ ولیدل چې ولسمشر غني په تیرو دوه نیمو کلونو کې داسې کړنې تر سره کړي دي چې مثبتې او ښې پایلې یې درلودلي دي او د ګاونډیو او نورو هیوادونو سره یې ښې اړیکې ټینګې کړي او یا یې کړکیچ کم کړی. دا پایلې زمونږ په ارزونه/سروې کې هم تر سترګو کیږي چې ۴۵ سلنه ګډونوالو، ولسمشر غني ته د کامیابي درجه ورکړې او په بهرني سیاست کې یې کامیاب ارزولی.




# اقتصاد

کله چې اوسني دولت خپل کار پیل کړ، خلک ډېر خوشبینه وو چې د ژوند حالات به یې ښه شي، خو وروسته له دوو کلونو، خلک د هیواد د اقتصادي وضعیت په اړه ناهیلي شول. کورني ناخالص تولید(GDP) له ۲۰۱۴ کال راهیسې کم شوي او نړیوالې رسنۍ د هیواد د ځوان نسل په اړه چې اروپا ته د خپل ژوند په بیه په ډ له یېزه توګه د وتلو په حال کې دي، راپورونه خپروي. په داسې حال کې د ولسمشر غني پاملرنه د اقتصاد په یوه برخه - په عمده توګه — د مالیې وزارت او د مالیې راټولولو ته اوښتې — د اقتصاد په نورو برخو کې کوم پرمختګ ندی شوی.

ولسمشر غني، په منشور کې، غوښتل د افغانستان اقتصاد چې یوازې د لګښت اقتصاد دی، اقتصادي ودې ته وهڅوي، کوم چې په وروستیو کلونو کې د ناټو د پوځ او بېشمېره نړیوالو مرستو پورې تړلی وو. په دې ډول، ولسمشر د هېواد د اقتصادي نظم په مدیریت کې د ژورو بدلونونو وړاندیز وکړ تر څو وکولای شي هیواد له اقتصادي کړکېچ څخه وژغوري. له همدې امله، ۷۲ سلنه ګډون کونکو، لکه څنګه چې په چارټ کې ښودل شوي، نیمایي برخې یې، ولسمشر ناکام او نیمایي برخې مشروط ګرځولی دی.





# فساد

د یوې مشترکې وجې په توګه، ولسمشر غني په خپل منشور کې په دې اړه چې څنګه د ښې حکومتوالي او په دولت کې د اصلاحاتو، په خاصه توګه په اجراییه څانګه کې له فساد سره مبارزه وکړي - له اداري برخې، د ټکنالوژۍ له لارې او د وړتیاوو پر بنسټ په استخدام کې د اصلاحاتو نه نیولې بیا تر عدلي او قضایي ادارو، د قضایه قوې په شمول تر نورو وزارتخونو پورې چې وګړو ته خدمتونه وړاندې کوي، خبرې کوي.

همداراز، د فساد د مهارولو او یا له منځه وړلو په موخه، د هر بنسټ د جوړښت او دندو کتنه د ګڼ شمېر خپلواکو ادارو په شمول چې د پخوانۍ اداري لخوا جوړې شوې وې، ترسره شوې. منشور وايي: اداري فساد لکه سرطان زمونږ سیاسي او اداري اورګانونه تر کنټرول لاندې راوستلي، او د ټولنې ټولې برخې یې زیانمنې کړې دي. او له همدې امله زمونږ ټولنه په اداره کې ژور او اساسي تغیر ته اړتیا لري.

په داسې حال کې چې ځینې شواهد ښیي، ډیر تغیرات راغلي، خو له بده مرغه، له ریښې څخه د فساد د له منځه وړلو لپاره دا هڅې د پام وړ ندي. افغانستان د پرانیستي حکومت د مشارکت غړیتوب د تر لاسه کولو په درشل کې دی او له همدې امله یې د دولتي تدارکونو په برخه کې چټک ګامونه اوچت کړي. خو، هغه اداري چې خلکو ته عامه خدمات وړاندې کوي د فساد تر سیوري لاندې دي لکه څنګه چې د آسیا بنسټ په سروې او نورو سروې ګانو کې هم په دې هکله ویل شوي. په ۲۰۱۶ کال کې، د افغانستان د روڼتیا څار په یوه راپور کې راغلي چې افغانانو ۳


بیلیونه ډالر د رشوت په توګه ورکړي دي، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله د رشوت په ورکولو کې ۵۰ سلنه زیاتوالی ښیي.
د حیرانتیا خبره نده چې د دې سروې ګډونکو، ولسمشر غني له فساد سره په مبارزه کې ناکام ګرځولی.




## تعلیم


په دوو سکتورونو کې ولسمشر غني تر یوه حده ښې کړنې درلودلي چې یو یې تعلیم او بل یې عامه روغتیا ده. ښکاره ده چې تعلیم د یوې ټولنې په پرمختګ، آرامۍ او سوکالۍ کې عمده نقش لوبوي او د وګړو برخه د وګړو د وړتیا له لارې چې د داسې چاپیریال په منځته راوړلو کې ترسره کوي، ښیي. سربیره پر دې، ولسمشر غني خپل ژمنتوب د تعلیم لپاره هغه وخت هم ښودلی وو کله چې د کابل پوهنتون مشر وو. په خپل منشور کې، ولسمشر غني تعلیم او لوړو زده کړو ته په بېلابېلو اړوندو سکتورونو کې اشاره کوي او ژمنه کوي چې په دې برخو کې به بنسټیز بدلونونه راولي. په ځانګړي توګه، ولسمشر د متحده عربي اماراتو او قطر هیوادونو د تعلیم او لوړوزده کړو په برخه کې لوړه پانګونه او زده کوونکو ته د لوړو زده کړو د ښو فرصتونو برابرولو یادونه کړې.

په دی سروې کې، ګډون کوونکو ولسمشر غني ته په اکثریت د کامیابي درجه ورکړې.




# عامه روغتيا

عامه روغتيا د وګړو د ساتنې او روغتيا د ښه والي په برخه کې حياتي رول لوبوي. د ولسمشر غني تګلاره د عامې روغتيا د ظرفيت د لوړولو په موخه، په ځانګړې توګه د عامې روغتيا د وزارت له لارې، د دې وزارت د اداري د ظرفيت لوړول په کابل او ولاياتو ده. د دې سروې د ګډون کوونکو له انده، ولسمشر غني په دې برخه کې ښې کړنې درلودلې دي.



# پایلې او وړاندیز

د ملګرو ملتونو د بشري پراختیا شاخص چې د ۲۰۱۷ کال د مارچ په میاشت کې خپور شوی، افغانستان د کمو پرمختللو هیوادونو په کتار کې راغلی او ۱۶۹ ځای یې خپل کړی. همداراز، افغانستان د نړیوالې روڼتیا د بنسټ لخوا تر ټولو مفسد هیواد پیژندل شوی او د ۱۷۶ هیوادونو له جملې یې ۱۶۹ مقام خپل کړی او د اقتصادي خپلواکۍ شاخص لخوا په ۲۰۱۷ کال کې د ۱۶۹ هیوادونو په کتار کې ۱۶۳ مقام خپل کړی.

دا شاخصونه مهم دي ځکه د یوه هیواد په اړه د هغه هیواد د کړنو شاخص وړاندې کوي. په داسې حال کې چې ښايي دا شاخصونه مأیوس کوونکي وي، خوسره له دې افغانستان په وروستیو دوه کلونو کې د ولسمشر غني د ولسمشرۍ په دوره کې پرمختیا کړې او د نړیوالې روڼتیا سازمان د فساد د شاخص په راپور کې ۹ درجې تغیر کړی او د اقتصادي خپلواکۍ د حکومت د روڼتیا تر شاخص لاندې یې په تدریجي توګه پرمختګ کړی.

لکه څنګه چې په پورتنیو راپورونو کې د پرمختګ په اړه ویل شوي، او نور شواهد هم ښيي، د ولسمشر غني ډېری اصلاحات د اداري بنسټونو او دهغو پرمختګ په پورتنیو سکتورونو کې متمرکز دي، نو ولې، د هیواد وګړي بیا هم ولسمشر غني ته د هغه د کړنو لپاره ټیټه درجه ورکوي؟ د افغانستان د عدالت موسسه، د خپلو اړیکو د شبکې او څېړنو له لارې، په دې باور ده چې بنسټیز اصلاحات په هره برخه کې په لار اچول شوي او جوته ده چې له فساد سره مبارزه او د اصلاحاتو راوستل ډېر وخت نیسي. سره له دې، د افغانستان د عدالت موسسه حیرانه ده چې ولې دې ټولو هلوځلو د سروې د ګډون کونکو په افکارو تاثیر نه دی کړی او فکر کوي چې ولسمشر غني په خپلو دندو کې پاتې راغلی.

بیا هم، مونږ کولای شول چې دا سروې وغځوو او کیفي اړخ ور اضافه کړو او د ګډونوالو عقاید په دې اړه نور هم وڅیړو خو مونږ نه غوښتل له دې سروې نه یو ۵۰ مخه اوږد راپور جوړ کړو. له دې نه علاوه، له دې چې مونږ ځیرمه سروې ګانې پخوا هم ترسره کړې، مونږ کولای شول په مختصره توګه د ګډونوالو نظریات سره راټول کړو چې وايي: زه دنده نلرم، پخوا مې ښې پیسې پیدا کولې/جوړولې، هره ورځ ځانمرګي حملې ترسره کېږي، زه به په خپل موټر کې تر بامیانو تلم خو اوس نشم تللی. او یا ګډونوالو به ښايي ویل چې: په دولت کې اداري فساد په لوړه کچه دی، حقوقي قضیې اوس هم په ټپه ولاړې دي، د ملي یووالي حکومت خپلمنځي ستونزې او داسې نور.

پرته له دې چې د سروې ګډونوالو د ولسمشر غني کړنې څنګه ارزولې، د افغانستان د عدالت موسسه په دې باور ده چې ولسمشر غني د رسنیو له لارې له وګړو سره په مخامخ اړیکو کې پاتې راغلی او خپل پاتې راتګ ته ادامه ورکوي.

د افغانستان د عدالت موسسه، ولسمشر غني ته وړانديز کوي چې هره اونۍ او يا هره مياشت د خپلو کړنو، پلانونو او لاسته راوړنو، پاليسيو، ستراتيژيو او اصلاحاتو په اړه د رسنيو له لارې (راډيو او ټلويزيون) د وينا يا خبرو له لارې او يا په هرډول يې خوښه وي، وګړو ته معلومات ورکړي.
دا په دې معنی نه ده چې يوازې د رسنيزو غونډو له لارې او د خبرياالانو يوې وړې ډلې ته د بهرنيو سفرونو او يا غونډو په اړه وينا يا معلومات ورکړي او د خبرياالانو پوښتنو ته ځواب ووايي. د دې پرځای له وګړو سره مخامخ د سولې، امنيت، اقتصاد، عامه روغتيا، فساد، بهرنيو اړيکو، ښې حکومتوالی او تعليم په اړه خبرې او هغوي ته معلومات ورکړي. زمونږ په اند، دا يواځينۍ لار ده چې خلک له ولسمشر نه په مستقيمه توګه خبر شي او پرې باور پيدا کړي او د هغه د کړنو په اړه ښه احساس وکړی.

له دې نه علاوه، مونږ وړاندوينه کوو چې له خلکو سره مستقيمې اړيکې او خبرې اترې به د ولسمشر د سياسي پانګې په برخه کې هم مرسته وکړي. مونږ همداراز باور لرو چې د خلکو اوسني نظريات نه يوازې له دې امله دي چې خلک د ولسمشر د کړنو او اصلاحاتو په اړه معلومات نلري بلکه له دې امله هم دي چې ولسمشر له خلکو سره په مستقيمه توګه د اړيکو په ټينګولو کې پاتې راغلی.

# د افغانستان د عدالت موسسې په هکله

د افغانستان د عدالت موسسه یوه غیرې انتفاعي او غیرې سیاسي موسسه ده چې د ډیموکراسی، ښې حکومتوالۍ او د قانون پلي کولو ته د پروژو د ډیزاین او مدیریت، د پروژو د عملي کولو او ارزونې، د روزنې او ظرفیت د لوړولو، د پالیسي د څیړنو او تحلیل او عامه پوهاوي او عدالت غوښتني له لارې وده ورکوي.

د افغانستان د عدالت موسسې په ټول هیواد کې سروې ګانې، څیړنې، د تمرکز ډلې غونډې او د عامه نظرونو د معلومولو نظرسنجې ترسره کړي دي. همدا راز یې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه پالیسي او تحلیلي راپورونه، د کتابونو فصلونه او د ترهګرې سره د مبارزې ، انتقالي عدالت، بشري خوندیتوب او له فساد سره د مبارزې په هکله کتابونه خپاره کړي دي.

له فساد سره د مبارزې په هکله کتاب په پراخه توګه په روزنیزو خپرونو کې د بېلابېلو پوهنتونونو او موسسو (آیدلو، مکس پلانک او کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځی) لخوا د درسي موادو په حیث کارول شوی.

د افغانستان د عدالت مؤسسې د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د مجلې (وکالت) د لوستونکو نظرپوښتنه ترسره کړې چې په دې اړه کې لوستلای شی.
http://www.afghanjustice.org/2012/05/01/ajoaiba-wekalat-magazine-user-survey#sthash.dAg8A4tS.dpuf

د افغانستان د عدالت مؤسسې د ولسمشر کرزي د حکومت د تېرو ۱۲ کلونو په اړه د خلکو نظرپوښتنه ترسره کړې چې په دې نظر پوښتنه کې د فساد او قانون د پلي کېدو په اړه پوښتنې نه دي ترسره شوي. دا سروې په لاندې لینک کې لوستلای شئ.
http://www.afghanjustice.org/2014/03/02/61-afghans-happy-with-karzais-presidency#sthash.TKNtbNyS.dpuf

د افغانستان د عدالت مؤسسې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو په هکله د خلکو نظرپوښتنه ترسره کړې چې په دې لینک کې لوستلای شئ.
http://www.afghanjustice.org/2014/03/18/international-exit-from-afghanistan#sthash.ZY0bBmS8.dpuf

د افغانستان د عدالت موسسي همداراز د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکي ټولني د غړو سروې د دې ټولني د ښه پلان او د غړو د غوښتنو، غړو ته د ښو خدمتونو د ترسره کولو او د ټولنی د قانون په اساس د ټولنې موخو ته د رسېدلو لپاره ترسره کړې.

AJO خپلې ارزونې/سروې ګانی د یوه خاص روش له لارې ترسره کوي. سربېره پر دې، د ارزونې/سروې د کیفیت د کنټرول په موخه لاندېني ګامونه اخلي تر څو د شوې ارزونې/سروې په هکله یقین حاصل کړي او متوقع پایلې ترلاسه کړي.

د افغانستان د عدالت موسسې د څارنې او ارزونې مسؤل تر سروې مخکې یوه نمایشي سروې تر سره کوي او د پوښتنو کیفیت ګوري، د څارنې او ارزونې مسؤل همداراز د سروې د مخه د پوښتنو ارزونه کوي، تر سروې وروسته راټول شوي معلومات په ډېټابېس کې جمع کوي او بیا د راټولو شویو معلوماتو تحلیل د تحلیل د پلان پر بنسټ تر سره کوي. د تحلیل پلان ساده او لنډ وي.

د افغانستان د مدني ټولنو د فورم (ACSF)، د وسله وال تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره نړیوال ګډون(GPPAC )، د ستراتیژیکو مطالعاتو سیمه ایز مرکز (RCSS) او د د جنوبي آسیا د فکري بنسټونو مجموعې ائتلاف(COSATT) غړیتوب لري.

AJO Afghanistan Justice Organization

اړیکه:
د رسنیزو پوښتنو لپاره اړیکه:
info@afghanjustice.org
Tel. +93 (0) 20 231 1904

د ډېرو معلوماتو لپاره لاند لیکی وګوری:
www.afghanjustice.org
www.afghanzariza.com
www.afghanlaws.com
www.mdllcc.com

وزیر اکبر خان۱۵ سرک، ۴ کوڅه (چپ لاس)،
کور شمیره ۴۰۴، کابل، افغانستان
www.afghanjustice.org